PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

اتحاد اسلامي

بیانگرآرمان اتحاد اسلامي افغانستان
پرله پسې گڼه «۲۲٤» اوم کال «۲٦» گڼه دوشنبه
د ۱۳۷۰ هـ ش کال د میزان «۱» د ۱٤۱۲ هـ ق کال
دربیع الاول «۱۵» اود ۱۹۹۱ میلادی کال دسپتمبر «۲۳»

دهرات اوفراه په ولایتونوکښي دمجاهدینو بریالي عملیات

دسپتمبر په (۱۵) نیټه ددغه ولایت دشینډند په ولسوالۍ کې دکابل رژیم یو ټولي ملیشه دتورن محمد رسول په مشرۍ له مجاهدینو سره یوځای شوي دي دخبر مطابق هغوي له ځانه سره یو میل

روسیی ته دمجاهدینو دهیئت لیږل د منلو وړ خبره نده

مولوی «خالص».

دحزب اسلامی مشرمولوی محمدیونس «خالص» د سپتمبر په ۱۹ په یوه ټیلفوني تماس کې د (میډیا) خبریال سره په خبروکې دروسانولخواد مجاهدینو وفد ته دمسکو دسفردبلنې په باب دوفد سفرسره په مخالفت کې خپل ردعمل څرگند کړ.

مولوی «خالص» وویل: مسکوته دمجاهدینو دوفد سفر اوروسانو سره په هغه ځای کې خبرې کول، کابل رژیم سره چې موږته اصلیت نلری د (٤۰۹) نه دزیاتو لاسلیك شویو قراردادونو د منلو په معنی ده.

مولوی «خالص» زیاته کړه: پدې شرایطوکی دښمن سره چې زموږدهیواد ټوله شتمني ئې لوټ کړې، تګ اوراتګ دمنلو وړخبره نده.

هغوی دغه راز وویل: که روسان دمجاهدینو وفد سره د خبرو اتروکولو غوښتونکی دی اوغواړی د افغانستان قضیه په عادلانه توګه حل شي نوښه لاره په داوی چې دهغوی اود مجاهدینو دنمایندګانو ترمینځ لیده کاته اوخبری یوبل دریم ځای هیواد کی وشی.

کفري هیوادونه په افغانستان کښي داسلامي حکومت دجوړیدو مخنیوي کوي

دپاکستان دجمعیت علماء اسلام مشر مولانا سمیع الحق دافغانستان دلانجې په هکله دامریکي، روس او نورو کفري هیوادونو په لوړه سطحه مفاهمت دافغانستان دجهاد دله مینځه وړلو او دمجاهدینو دقربانیو ضایع کولو لپاره یو غټ سازش و باله.

هغه وویل: چې مادي ستر ځواکونه په روس کې دکمونیزم دله مینځه تللونه وروسته اوس په افغانستان کښي داسلامي حکومت دجوړیدو مخه نیسي.

سیل مهاجرت افغانها ازمناطق مختلف افغانستان به پاکستان یکبار دیگر اغاز یافته است

گزارش خبرنگاران میدیا ازکمپ هاي مهاجرین دراطراف پشاور حاکیست که درین روز ها یکبار دیگر بسیاري ازخانواده ها ازنقاط مختلف افغانستان بخصوص کابل، بصوب پاکستان درحال کوچیدن بوده واگرچاره جوئي اساسي صورت نگیرد امکان خالي شدن مناطق تحت کنترول رژیم ازسکنه وجود دارد.

گزارش ها مشعر است: خانواده هاي مهاجر راکه عده، ازآنها درکمپ اضاخیل جابجا شده اند عموماً زنان واطفال تشکیل میدهد وازهر خانواده یکي دونفر درمنطقه مانده بقیه بمناسبت هراس اززمستان آینده راه پاکستان را درپیش گرفته اند.

خبرنگاران ما ازقول عده، ازمهاجرین تازه وارد به پاکستان به میدیا اطلاع میدهد، ناتواني مسئولین رژیم درتأمین امنیت مردم، صعود روز افزون قیم مواد اولیه وترس ازاحتمال تکرار زمستان دوسال قبل که نسبت کمبود مواد سوختي پیشبیني میشود، انگیزه مهاجرت مهاجران تازه وارد به پاکستان را تشکیل میدهد.

طبق اظهار آنان خانواده هاي زیادي هم اکنون درراه رسیدن به پاکستان

جاپان دتجارتي پالیسی په اړه دامریکي فشارمستردکړ

پاکستان - ۲۰ ستمبر

جاپان دامریکي لخوا دبین المللي تجارت او خارجه پالیسي په اړه د فشار قبلولونه انکار کړی دي، امریکه دجاپان لخوا آسیایي هیوادونو ته په لوړه پیمانه دسرمایه کاري دبندولو هلي ځلي کوي.

یوه آسیایي ترجمان ویلي دي چې: دامریکا دفشار په ځواب کښي جاپان اخطار ورکړي چې که چیرې امریکه په جاپان باندي دغیر معمولي فشار هلي ځلي وکړي نو جاپان به په خپل دفاعي تیاري شروع وکړي او دوسلو په وارداتو برسیره به خپله دفاعي تکنالوژي هم وپلوري.

په واشنگټن کې اقتصادي ماهرین وائي چې په امریکه کښي دآینده صدارتي انتخاباتو نه وړاندې دجاپان اوامریکي ترمینځ دراتله اختلافات رامینځ ته شوي دي.

په لوګر کښې ددښمن دوه پوستې فتح او ۲۳ تنه ملیشه په اسارت ونیول شول

د میډیا خبری آژانس د رپوټ له مخې مجاهدینو د سپتمبر په ۱۹ نیټه دلوګر ولایت مرکزپورې مربوط دټیرې او بلند کمر پرپوستو باندې ددرنو اوسپکو وسلو څخه په استفادی سره بریالی عملیات ترسره کړل چې دهغې په نتیجه کښې د کابل د کمونیست رژیم دوه پوستې فتح، یوزیات شمیر ملیشه او عسکرمړه او هم ددښمن دقواؤ یوشمیر نقلیه وسایل اوسنګرونه له مینځه تللی دی.

رپوټ زیاتوی چې مجاهدینو په دی بریالی برید کښی د کابل رژیم له قوا ؤ څخه ۲۳ تنه د ګلم جم په نامه ملیشه، د ۵۲ فرقې د ۷۷ غنډ د ارکان رئیس په شمول ژوندی نیولی دی.

د خبرځای درپوټ مطابق مجاهدینو په دی جګړه کښی د رژیم له قواؤ نه څلور عرادی په مهماتو بار پوځی لاری ۳۵ میله یول یول درندی اوسپکی وسلی دیوی اندازی چاودیدونکو موادو اولوژستیکی موادو سره ولجه کړی دی.

په بغلان کښې ۲۹ تنه عسکر او ملیشه وژل شوی اونور ۳۰ تنه ټپیان شوی دی

۲۹ تنه عسکر اوملیشه دبغلان په ولایت کي دمجاهدینو دیو برید په ترڅ کي مړه او ۳۰ تنه نوربي ټپیان شویدي.

په پیښور کي دمجاهدینو یو جهادي خبر ځاي دبغلان له ولایت څخه دیو رادیويي پیغام په حواله میډیا ته رپوټ ورکړ چي مجاهدینو دسپتمبر په (۱۵) نیټه دکابل رژیم دقواؤ برید چي غوښتل یې له مجاهدینو څخه هغه مرکزونه اوپوستي چي دوه ورځي مخکي یې دبغلان په زاړه شارکي نیولي وي بیرته ونیسي، دسختي ماتي سره مخامخ کړ او په شا یې تمبولي دي اوددښمن له عسکرونه یې یومیل راکټ، پنځه میله کلاشینکوفونه اویوه اندازه مهمات په ولجه نیولي دي.

یك پوسته ویك تانك دشمن در مزار شریف از بین برده شد.

طبق گزارش یك منبع جهادي ازولایت مزار شریف: مجاهدین مؤمن ما بالاي پوسته هاي نل گاز درولسوالي چمتال ولایت مذکور بتاریخ ٢٤ و ۲۷ سنبله عملیات نمودند که درنتیجه آن یك پوسته دشمن تخریب ویك تانك برسرنشینان آن از بین رفت.

یک طیاره، جیت بم افگن رژیم کمونیست کابل در پغمان سقوط داده شد.

به اساس گزارش آژانس خبررسانی میدیا یك طیاره، بم افگن رژیم که همردیف طیارات دیگر مصروف بمباران مواضع مجاهدین درپغمان بود ساعت یك وتیم بعد ازظهر بتاریخ (۱۸) سپتمبرهدف دافع هوا قرارگرفته ساقط گردید.

طبق اطلاع پیلوت طیاره که سعی داشت با استفاده ازپراشوت خودرا نجات دهد حین فرود آمدن برائر آتشباری مجاهدین بقتل رسید.

ظرف هفته اخیر این سومین طیاره، بم افگن رژیم است که درنقاط مختلف کشور درجریان عملیات بالتیر دافع هوای مجاهدین سقوط داده شده است.

ایران ازمعاهده، جدید دفاعی میان کویت وامریکا ابرازنگرانی کرد

تهران - ۳۱ سنبله

ایران درباره، پیمان جدید دفاعي میان کویت وایالات متحده ابرازنگراني کرده است.

به اساس گزارش رادیو امریکا شوراي عالي امنیت ایران میگوید این معاهده راه را براي تعبیه، قواي خارجي درمنطقه خلیج هموار مي سازد.

آژانس خبري ایران میگویدکه آنکشور قصدداره درباره محتواي موافقت نامه ازکویت طالب ترضیحات شود.

این معاهده که به روز پنجشنبه به امضاء رسید به ایالات متحده اجازه میدهد درکویت اسلحه ذخیره کند و تمرینات نظامي را اجراء نماید به موجب این موافقت نامه ایالات متحده همچنان قشون کویتي را تمرین داده درساحه نظامي مشوره خواهد داد و تجهیزات نظامي را فراهم خواهد کرد.

موافقتنامه به ایالات متحده اجازه نمي دهد که پایگاه نظامي خودرا درکویت تأسیس کند.

د ګردیز ښارته نږدې د ملحد رژیم یوه الوتکه راوغورځول شوه

د پکتیا له ولایت څخه په رارسیدلي خبرکي ویل شویدي چي مجاهدینو دسپتمبرد میاشتي په (١٤) نیټه درژیم یوه جټ الوتکه هغه وخت په ستنګرتوغندي وویشتله اوځمکي ته یې را وغورځوله کله چي د ګردیزښار په شاوخوا کي د مجاهدینو په مرکزونو بمباري کوله.

رپوټ وائي چي دغه الوتکه د ګردیز اولوګر ولایت ترمینځ دوچي کندي په نامه سیمه کي ولویده چي عمله ئي په کي له مینځه تللي دي

«میډیا»

جنرال ها وسایر صاحب منصبان بلند پایه اردو رو به زوال رژیم کابل به بهانه هاي گوناگون ازوظیفه می گریزند

به گزارش خبرنگار اعزامي (میدیا) ازکابل، جنرالان وسایر صاحب منصبان عالیرتبه قواي مسلح کمونیست کابل که اخیراً مورال شانرا ازدست داده اند، به بهانه مریضي که یگانه راه فراغت ازجنگ است ازاجراي وظایف محاربوي دربرابر مجاهدین شانه خالي کرده راه شفاخانه ها را بر مي گزینند.

طبق گزارش، جنرال عظیم (زرمتي) که ازمدتها قبل درشفاخانه بستري است، باوجود صحت یابي، خود را همچنان درشفاخانه نگهداشته است.

همچنان جنرال نورالحق «علومي» که اخیراً بحیث نماینده خاصي نجیب رئیس حکومت کابل سمت والي کندهار را بعهده داشت بادرنظر داشت وضع پریشان مالي حکومت متبوعش بنام تداوي به روسیه رفته است و تاکنون درآنجا باقي مانده وطبق شایعه، ازآمدن به کابل به بهانه جوئي هاي مختلف ابامي ورزد.

خبرنگارما مي افزاید، بسیاري ازصاحب منصبان، قطعات عسکري را ترک گفته بااخذ کارتهاي رخصتي درمنازل شان بسر مي برند.

بقرار راپور، مسئولین اردوي رژیم نیز باپي بردن ازین امر بغرض پیدا نمودن اینگونه صاحب منصبان گروپي مرکب

جګړن مقام خان، قوماندان ملیشه، رژیم کمونست کابل با (۱۰) تن از افراد خود به مجاهدین پیوست

آژانس خبري میدیا ازولایت جوزجان گزارش میدهد که مجاهدین بروز (۱۵) سپتمبر بالاي پوسته هاي امنیتي ولسوالي سرپل ولایت جوزجان عملیات نمودند که درنتیجه آن ازقوماندانان ملیشه هاي رژیم کابل بنام جګړن مقام خان همراه با (۱۰) نفر افراد خود با اسلحه دست داشته به مجاهدین پیوستند.

طبق راپور درین حادثه (۱۵) نفر زخمي ویك پوسته امنیتي تخریب گردیده است.

گزارش مي افزاید درین حمله دوعراده تانك زرهي رژیم طعمه، حریق گردیده است.

افشاي پلان اعمار بیشتر مسکونه هاي یهودي نشین دربیت المقدس

۳۰ سنبله

حکومت اسرائیل پلانهاي اعمار بیشتر مسکونه هاي یهودي نشین را دربیت المقدس شرقي افشاء ساخته است وهرگونه دادن امتیاز را درمورد این مسکونه ها درقلمرو هاي تحت اشغال رد کرده.

شارون وزیر خانه سازي اسرائیل میگوید که ۳۰۰۰ هزار واحد ساختماني را درقلب ساحه غربي اعمار کند. پلان او مورد تائید پارلمان اسرائیل قرارنگرفته است ولي پارلمان بروز جمعه مبلغي ازشش ملیون دالر را براي اعمار مسکونه ها تخصیص داد. درعین حال بررسي افکار عامه دراسرائیل نشان میدهد که بیش ازنصف مردم عام اسرائیل نشان میدهد که بیش ازنصف مردم عام اسرائیل طرفدار متوقف ساختن این مسکونه ها میباشد درصوریتکه این امر برتصویب تنازعه باامریکا روي تضمین قرضه براي اسرائیل استوار باشد.

۲۰ تن از افراد دشمن هلاك وسه تانک زرهي حریق گردید

۲۰ تن ازافراد نظامي رژیم کمونیست کابل طي عملیات جداگانه، مجاهدین درولایت سمنگان هلاك، (۳) نفر مجروح و (۵) نفر دیگر بشمول یك نفر صاحب منصب اسیر گردیدند.

یك منبع جهادي به (میدیا) گزارش میدهد که مجاهدین بروز ۱۳ سپتمبر بالاي پوسته هاي امنیتي منطقه بغلانك ولسوالي خلم ولایت سمنگان حمله نمودند

په لغمان اوپروان کښي دمجاهدینو بریالی عملیات

مجاهدینو دسپتمبر په (۱٦) نیټه ددغه ولایت دمرکز مهترلام بابا په شمال لوېدیځه برخه دخواجه صاحب دسیمې پر پوستو برید وکړ چې په نتیجه کې دکابل رژیم دوه تنه صاحب منصبان ددریو ملیشو سره مړه، یوشمیر ټپیان او دوه عرادي زغره وال ټانکونه ددري عرادو

بعد ازتعهد روسها به قطع کمك به رژیم کابل، راه دیگري جزفرارویاتسلیم به وابستگان رژیم وجود ندارد

پروفیسور «رباني»

پروفیسور برهان الدین «رباني» رهبرجمعیت اسلامي، وزیر اعمارمجدد وسرپرست وزارت خارجه حکومت مؤقت اسلامي به خبرنگار (میدیا) دراسلام اباد بروز (١٦) سپتمبر گفتند: رژیم کابل عامل جنگ وخونریزي ومانع اساسي عدم استقرار امنیت درکشوراست. نجیب باید ازقدرت کناررفته جایش رابه حکومت مورد قبول مردم خالي کند.

پروفیسور «رباني» درپاسخ به پرسش خبرنگار (میدیا) درروابطه به طرح جدید آتش بس نجیب رئیس رژیم کابل، اظهارداشتند: رژیم فاقد هرنوع صلاحیتواعلان آتش بس است وطرح نجیب حرکت تبلیغاتي بیش نیست، زیرا رژیم غیرقانوني بوده وپابند هیچ تعهدي نمي باشد.

ایشان افزودند: این اعلان میشود، چون بهانه، براي حملات راکتي وهوائي بمنظور تلاش بخاطر تقویت روحیه، ازهم پاشیده ومایوس دارودسته، آن صورت گرفته باشد، زیرا بعد ازتعهد روسها به قطع کمك به رژیم درحال زوال کابل راه دیگر جزفرارو یاتسلیمي به مجاهدین براي وابستگان آن باقي نمانده است.

پروفیسور، رباني «یگانه راه حل معضله افغانستان راسقوط عاجل وفوري رژیم وانتقال اداره به حکومت نماینده ومورد قبول مردم دانستند.

دکمونیزم له ماتي نه وروسته امریکا په نړۍ باندې دنوی استعمار مسلط کول غواړي

دپاکستان دجماعت اسلامي مشر قاضي حسین احمد ویلي دي چي په نړیواله سطحه دکمونیزم له ماتي نه وروسته اوس امریکا په نړۍ باندي دنوي استعمار مسلط کول غواړي چي ددي مقابله یوازي اویوازي اسلامي امت کولاي شي.

لیکن داقسوس ځاي دي چي داسلامي نړۍ داکثرو هیوادونو حکومتونه دعوامو په لاس نه دي هغه ویلي دي چي پاکستان حکومت د ژر تر ژره په تاشکند کښي قنسلګري پرانیزي اوله اسلام آبادنه ددروسیي اسلامي ریاستونو ته الوتني پیل شي، قاضي حسین احمد زیاته کړیده: کله چي په افغانستان کښي دروسي استعمار پرخلاف جهاد پیل شو، هغه وخت ځینو کسانو دپښتونستان دقیام خوبونه لیدل او هغوي په کابل کښي خپل

ص۳

مجاهدینو په کندهارکښي ددښمن یوه پوسته فتح او ٦ تنه عسکر اوملیشه یې په هلاکت ورسول

په کویټه کښي دمیډیا خبري آژانس رپوټ ورکړي چي مجاهدینو دسپتمبر په ۱۷ نیټه ددغه ولایت په ښار دشاه بازار په سیمه کي دځارندوي پریوي پوستي باندي ددرندو وسلو څخه په استفادي سره بریالي عملیات ترسره کړل چي دهغي په نتیجه کي نوموړي پوسته فتح، شپږ تنه عسکر او ملیشه مړه، یوشمیر ټپیان اودري تنه نوربي ژوندي نیول شویدي.

رپوټ زیاتوي چي مجاهدینو دررژیم قواؤ نه پدي پیښه کي یومیل پیکا یومیل راکټ شپږ میله کلاشینکوفونه او دکلاشینکوف شپږصندوقه ګولي دیوي اندازي لوژستیکي موادو سره ولجه کړیدي همدارنګه مجاهدینو په نوموړي ولایت کي دسپتمبر په (۱۵) نیټه دکندهار په ښارکښي دخا د پرپوستو بریدوکړ چي دهغي په اثر دملحد رژیم له قواؤ نه څلورتنه عسکر اوملیشه مړه، دري تنه ټپیان او هم ددښمن یوشمیر کلك سنګرونه له مینځه تللي دي.

درپوټ مطابق په پورتنیو جګړو کي مجاهدینو ته څه ځاني تلفات ندي رسیدلي.

روس قزاقستان ته په اتومي وسلو دکنترول اجازت نه ورکوي

جنگ - ۱۸ ستمبر

دروسیي دخارجه چارو دوزارت یوه ترجمان ویلي دي: دقزاقستان جمهوریت ته ددي اجازه نشته چي هغه په قزاقستان کښي اتومي وسلي ترخپل کنترول لاندي راولي. ترجمان دغه خبره دقزاقستان دصدر دهغه بیان په ترڅ کښي کړي ده چي: قزاقستان به اتومي وسلي تر خپل کنترول لاندي راولي.

دقزاقستان صدر «نورسلطان» اوس، اوس دخپلي مرکي په ترڅ کښي ویلي دي چي: په قزاقستان کښي اتومي وسله شته چي زموږ ترکنترول لاندي ده.

دروسیي ترجمان ویلي دي چي کریملین دروسیي جمهوریتونو ته داتومي وسلو دکنترول اجازت نه ورکوي.

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان

دامتیازخاوند : دافغانستان اسلامي اتحاد

دتأسیس نیټه : ۱۳٦٤ کال دعقرب میاشت

خپرونکي اداره : ددعوت وارشاد ریاست فرهنگي څانگه

سرمقاله

آغازمیکنم به نام خداوند بخشاینده ومهربان

جهان درآستانه ، بازگشت به اسلام

بعد ازگذشت قرنهاي متمادي ، بشريت سرگشته و حيران دو باره با ديده، ژرف نگر و انديشه هاي بيدارخويش روبه سوي حقيقت نهاده و آهسته آهسته پرده هاي باطل راكه از مدتها بر ضمير و وجدانش سايه افگنده بود ازصفحه، وجود وهستي اش دورمي سازد. بشريت بحكم انسان بودن خويش ازنخستين روز حيات در كره، زمين به دوگروه حق و باطل تقسيم يافته و با يكديگر در مبارزه بسرمي برند ، و اين سنت خداوند لايزال در زندگي آنها تطبيق مي يابد كه اگر خداوند بعض ازمردمان را توسط بعضي ديگري دفع نمي كرد فسادي در روي زمين رونما مي گرديد .

روي اين موضوع مي بينيم كه رسالت انبياء عليهم السلام همواره درطول تاريخ با عمر انسان همنوائي دارد و درهرجامعه، كه باطل سربرآورده پرچمداران حق دربرابرآن صف آراستند و برضد آن بمبارزه پرداختند ، وسرانجام با دادن قربانيهاي بيشمار ، و ايثار و فداكاريهاي بي نظيرغرور باطل درهم شكستند ، وافتخار پيروزي بدست آوردند ، دين مقدس اسلام نيز ادامه و مكمل همين راه و دعوت بوده ، وبا مبعوث شدن حضرت پيامبر بزرگوار مان اين نعمت به پايه اكمال رسيد ، و اين دين بعنوان آخرين سلسله نبوت مقام شاياني را درميان ساير اديان سماوي احراز نمود ، همزمان با مبعوث شدن پيامبر اسلام حضرت محمد - صلي الله عليه وسلم - دشمني و عداوت پيروان مكتب شيطان برضد آن بالاگرفت ، ودرپيشاپيش اين دشمنان يهوديت و نصرانيت قراردارد ، آنها درطول حيات خويش لحظه، ازطرح توطئه وايجاد دسيسه عليه اسلام ومسلمانان دريغ نورزيدند ، وبخاطر تيل ازين دين و اذيت به پيروان آن به هروسيله، نامشروع دست زدند ، وتاريخ اسلام صفحات ازكارنامه هاي ننگين وسياه آنها رابياد دارد كه خود مبين خبث باطني آنها نسبت به اين دين و پيروان آنست .

درعصر كنوني ، عصريكه بشريت آن را عصرجنون علم ناميده است ، به مستواي پيشرفت علم وتمدن درساحه، ساينس وتكنالوژي ، بشريت روبه انحطاط وقهقرا، نهاده و سير نزولي خودرا درساحه، اخلاق و انديشه مي پيمايد ، آغاز جنگ فكري و يا نبرد ايدلوژيكي عليه اسلام درچوكات مكتبها و سازمانها ، يكي ازين شيوه هاي است كه دشمنان آنرا درتحقق بخشيدن أهداف خويش پياده ساخته اند - و همواره تلاش نموده اند تا ازطريق اين مكتبها و سازمانها جبهه، قويتر و نيرومندتري را عليه مسلمانان سروسامان دهند، تأسيس احزاب الحادي دركشورهاي اسلامي تحت نامهاي مليت و قوميت ، وزبان ، يكي ازدست آوردهاي استعمار ويكي ازبذرهاي خبيث است كه توسط يهوديان و صليبيون اساس گذاشته شده است .

نشأت حزب كمونست كه اساساً باهرنوع ارزشهاي انساني مخالفت دارد چكيده، افكار و طرحهاي يهود است كه بخاطر تسلط يافتن برمقدرات سايرانسانهاي روي زمين بنا، يافته است - با تفاوت اينكه آنها درهرمحيط و جامعه طبق لزوم ديد خويش به ايجاد اين نوع افكار ضد ديني و اخلاقي مي پردازند .

حزب كمونست كه تحت قيادت لينين وساير رهبران آن در روسيه سربرآورد وبعد به جاهاي ديگر راه يافت ، بيش ازهفتاد سال ملتها را درآتش ظلم و بيداد خود سوختاند ، و هستي ووجود آنهارا ازبين برد .

ولي ازآنجائيكه اين حزب برضد طبعيت و فطرت بشري بود ، نتوانست بيش ازين برظلم و دكتاتوري خود دوام دهد ، ودركوتاه مدتي اين حزب توسط بنيانگذاران آن درهم كوبيده شد ، ومجسمه لينين وساير رهبران حزب كمونست به زير انداخته شد، وپيروانش آنرا يك سازمان جهنمي در دوران حكومت كمونستها خواندند .

شكست امپراطوري روس كه بادست شيرمردان افغانستان آغاز يافت راه را بسوي زوال و نابودي هرچه سريعتر اين رژيم وحشت و اختناق هموار ساخت ، وسرانجام اين كشوريكه بعد از امريكا در مرحله، دوم ازقدرت قرارداشت ، و جهانيان ازگرفتن نام آن درخود مي لرزيدند ، به خاك ذلت سربسائيد ، ودر آستانه، ايمان و تصميم اين ملت بيچاره ومظلوم شكست و افتضاح خودرا اعلان نمود ، و رهبران تازه كار آن بار جنايت اين سياست ناكام خود بدوش اسلاف خونخوار خويش افگنده تا آنهارا دربرابر افكار جهانيان مجرم و جنايتكار معرفي نمايند ، و خود دامان خويش از جنايات ايشان پاك و بي آلايش جلوه دهند .

شكست كودتاي اخير دركشورپهناور شوروي معيارها و موازين سياسي را تغير داد و كشورهاي مستعمره يكي بعد ديگر به اعلان استقلال و آزادي ازحكومت مركزي شوروي پرداختند ، و جمهوريت هاي مسلمان نشين نيز به نوبه،

ص ۳

نبرد ما بايهود

بقلم استاذ سيدقطب

ترجمه : عبدالحق « عتيد »

امت اسلامي مارگجهاي زيادي ازحق پوشي ورخنه كاري يهود را ديده است .

« اي اهل كتاب چرا مي پوشانيد حق را به باطل ، ومي پوشانيد حق را ، ودرحاليكه خود ميدانيد »

اينست خصوصيت اهل كتاب ، وبرمسلمانان لازم مي آيد كه اين خصوصيت آنهارا خوب درك كنند ، واحتياط خود ازان بنمايند .

خصوصيت حق پوشي ورخنه كردن درميان آنها .

اين خصوصيت كه خداوند سبحانه وتعالي اعمال اهل كتاب را مورد نكوهش قرارداده است ، واين همان امريست كه يهوديان بسان اسلاف خود تا عصر كنوني بتدريج به آن عمل كردند ، واين است شيوه، آنها درطول قرنها ودرمدار تاريخ .

يهود ازهمان نخستين روز دعوت اسلامي، به حق پوشي ورخنه جوئي درصفوف مسلمانان كار كردند ، وبعد صليبي ها نقش قدم آنها را گرفتند وراه ورسم آنها رابرگزيدند .

باتأسف بايد گفت يهود درطي قرون متمادي درميراث وفرهنگ اسلامي چنان رخنه كردند ، كه با دشواري ميتوان بدان آگاهي يافت ، وبازحمت قرنها ميتوان آنرا كشف نمود ! آنها درهمه، ساحات ميراث اسلامي رخنه كرده حق را به باطل پوشيدند ، مگر اين كتاب مقدس را كه خداوند خود حفظ ونگهداري آنرا متكفل گرديده وازدست زدن آنرا مصئون نگهداشته است ، خدارا به اين فضل بزرگش ستايش مينمائيم .

يهود درتاريخ اسلامي ، درروبداد ها وشخصيت هاي آن دست زدند وحتي درحديث نبوي رخنه كرده، تاآنكه خداوند براي اين امر ، ... مردان رامسخر ساخت كه به تحقيق وپژوهش درين زمينه پرداختند ، واحاديث صحيح را از موضوعي جداساختند ، مگر آنچه راكه ازقدرت وتوانائي بشري بيرون بود وبا وجود سعي شان نتوانستند به آن دست يابند .

آنها هم چنان درتفسير قرآن دست زدند ورخنه كردند .

درپهلوي اين همه دست اندازي هاي ناروا ورخنه كردن هاي مرموز شان ، رخنه خطر ناك ومهم ديگري را به راه انداختند .

آنها براي فريب دادن اين امت شخصيت ها وزعامت هاي دروغين را درصف مسلمانان جادادند .

صدها وهزاران تن ازآنها بخاطر دسيسه درجهان اسلام جاگرفت ، وهنوزهم ايشان درچهره، مستشرقين وشاگردان ايشان كه امروز مناصب زندگي فكري را دركشورهاي كه اهل آن ادعاي مسلماني مي كنند اشغال نموده اند وجود دارند !!

ودهها ازين شخصيت ها رخنه كرده درميان امت مسلمه وجود دارد ، وبصورت قهرمانان مصنوعي ازطرف سازمانهاي صهيونيزم برخاسته اند تابراي دشمنان اسلام خدمات قابل قدري را انجام دهند كه دشمن ازانجام آن عاجز است ونميتواند بصورت علني وآشكار آنرا به سررساند .

هنوز هم اين مكر ودسيسه موجود است ، وهنوز راه نجات وخودنگهداري ازين دسيسه ها همانا پناه جستن به اين كتاب مقدس محفوظ آسماني ، وبازگشت به آن، ومشوره گرفتن ازآن درجنگ كه درطول قرنها افروخته گرديده است ميباشد.

***

هنوز ازطرف يهود حمله، شديدي شك انگني وترديد درميان مسلمانان ادامه دارد :

چنانچه الله تعالي ميفرمايد:

« وگفت طائفه ازاهل كتاب : ايمان آريد به آنچه كه نازل گرديده برمؤمنان دراول صبح، وكافر شويد به آن درآخر روز تاايشان بازگردند ، وايمان نياوريد مگر به آن كس كه پيروي دين شماكند » .

اين شيوه، مكارانه وپستي است ، زيرا اظهار نمودن ايشان اسلام را ، وباز برگشت ازآن ، درنفس ها وعقل ها وآنهائيكه درايمان خويش ثبات ندارند وبه حقيقت وطبعيت دين خويش پي نبرده اند اضطراب وتشويش را ايجاد مي كند ، چون ايشان يهود را ببيند كه درآغاز صبح ايمان آورده اند ، وبعد ازآن برمي گردند آنها را گمان بدان ميشود كه گويا ارتداد ايمان به سبب آگهي آنها به نقص وعيوب بوده كه درين دين وجودداشته است ، ودرميان دو الجاء سرگشته وحيران مانده ودرهيچ حالت ثبات ندارند .

واين خدعه ونيرنگ تا امروز بكار گرفته ميشود ، وبصورت هاي مختلف كه باپيشرفت اوضاع و روح مردم مطابقت ومناسبت داشته باشد تبارز مي كند .دشمنان اسلام ازين مأيوس شدند كه اين روش وشيوه خدعه ونيرنگ ايشان نقش سازنده، خودرا ايفاء كند ، لذا نيروهاي مخالف اسلام درجهان به اسلوب هاي مختلف ديگر متوسل شدند ، كه همه آن به اين نيرنگ وخدعه، ديرينه ايشان برميگردد .

اين نيروي بزرگ ، امروز درجهان اسلام داراي چنان لشكر پيش تاز وجرار از مزدوران خوش خدمت است كه درچهره استادان ، فلاسفه ، دكتوران ، متخصصين تبارز نموده است ، وبسا اوقات اين مزدوران دشمن ، درصورت وقيافه، نويسندگان وشعراء وهنرمندان وخبرنگ... درحاليكه نامهاي اسلامي برخود گذاشته ... - زيرا آنها زاده، اولاد مسـ... سرمي كشند ، وچه بسا كه بعضي ... مزدوران ازعلماء سرشناس مشهور مسلمانان بشمار ميروند .

اين لشكر جرار ازعلماء وظيفه يافته اند تا دراندیشه ها وعقيده ها با وسايل مختلف درصورت بحث وعلم وادب وهنر وخبرنگاري خلل ايجاد كنند ، وپايه هاي آن را ازاساس ضعيف سازند ، اهانت به شان عقيده ، واهانت به شان شريعت هردو برابر است .

فعاليت آنها درشكل تأويل نمودن اين عقيده وباشريعت ، وحمل نصوص آن به مفاهيم كه به هيچ وجه به آن دلالت ندارد وتلكيد گذاشتن پيهم ايشان برعقب ماندگي اين عقيده ودعوت ديگران به روي گردانيدن ازين دين ودورساختن آن ازساحه، زندگي ، ازترس آنكه مبادا

ص ۳

ارزش كلمه طيبه درزندگي

نوشته مولانا ابو الاعلى مودودي

ترجمه، غوث الله چكري

داخل شدن به دروازه، دين اسلام كلمهٔ طيبه است اين كلمه عهد نامه ايست كه انسان باخالق خويش مي نمايد كه بعد ازاين عهد نامه بدين مقدس اسلام داخل مي شود .

اسلام نام كدام قوم باطائفه، مشخص نهاده نشده است بلكه مسلمان بندهٔ مطيع وفرمانبردار الله عزوجل است . به سبب همين كلمه طيبه است كه بين انسان مسلمان وغير مسلمان فرق فاحشي پيدا ميشود ، كسيكه اين كلمه را ميخواند يك امت ومنكرين آن امتي ديگر ميباشد اگر پدر كلمه خواند وفرزند ازآن منكر شد پس پدر ، پدر اين فرزند ، وفرزند فرزند آن پدر نيست اما اگر شخص بيگانه كلمهٔ طيبه را خواند وباصدق دل اقرارنمود وازاين فاميل زن گرفت وي واولاد وي ازاين خانه ميراث برده ميتوانند ، مگرفرزند اصلي آن بخاطر انكارازكلمهٔ طيبه ازهرحق محروم خواهد بود ، لذا كلمه چيزيست كه آشنارابيگانه وبيگانه را آشنامي سازد ، حتي ديديد كه قدرت وتوانائي كلمه آنقدر بزرگ وعظيم بود كه رشته، خون ورحم درمقابل آن ارزش نداشت . بخاطريكه به خواندن كلمهٔ طيبه انسان ازكفر روگردان شده وبه اسلام مي پيوندد . پس لازم است درتمام معاملات زندگي كلمهٔ طيبه را به معني ومفهوم واقعي آن برخود تطبيق نموده ومتوجه باشيم كه بعد از اقرار به كلمه توحيد ديگر مانند كفار آزادنيستيد تاهرچه بخواهد بكشيد . بلكه پابند احكام واوامر وضع شده الهي قرارميگيريد تا مطابق آن عمل واز چيزهاي منع شده خود داري نمايد.

معناي كلمهٔ طيبه اينست كه بغير از الله عزوجل معبودي ديگري نيست وحضرت محمد صلي الله عليه وسلم فرستاده، خداوند است.لفظ خداوند به كسي كه مستحق عبادت بوده ، خالق مالك ، رازق وقبول كنندهٔ دعاها وآنچه بگويد شود گفته مي شود ، الله عزوجل يكتا وواحد است هيچ شريك ومانند ندارد، وهرچيزي كه دراطراف واكناف ماست ، وتمام موجودات كائنات ، موت وزندگي، راحت وزحمت وغيره مربوط ومنوط به اوميباشيم .

پس اگر خوف وترس داريد ازوي داشته باشيد ، واگر ركوع وسجده ميكنيد به وي كنيد زيراشايسته وشايگان همه عبادات الله عزوجل ميباشد وبس . وبه جز خالق يكتا بندگي وغلامي هيچ طاقت وحاكمي را نبايد كرد .

بعد از لااله الاالله ، محمد رسول الله گفتيم ، گويا اقرارنموديم كه رسول الله صلي الله عليه وسلم ازجانب الله عزوجل بخاطر هدايت ورهنمائي مافرستاده شده،چون طريقه ،راه ، روش ومنسوبه جناب شان را مورد تائيد قرارداديد . پس هرامري كه خلاف فرموده، حضرت شان باشد آنرابدور پرتاب كنيد ، بعد از اقرار اگر كسي خلاف سنت وهدايت رسول صلي الله عليه وسلم عمل ميكند كذاب وبي ايمان خواهد بود كه برآن خداوند لعنت فرستاده است . گفتيم اقرار به كلمهٔ طيبه داخل شدن به دين مقدس اسلام است وبه بركت همين اقرار باتمام مسلمانان جهان اخوت وبرادري پيدانموديد وبرتمام مسلمانان جهان حفاظت مال ، جان ،آبرو

و عزت شما فرض شد وبداخل شدن به دين مقدس اسلام ازپدر ميراث ميبريد وبه بركت همين دين اسلام است كه صاحب مال واولاد جايز ميگرديد وبالاخره ده ها بلكه صد ها فضايل ديگري را نيز دردنيا واخرت نصيب مي شويد بازهم اگركسي در اقرار خويش صادق وثابت قدم باقي نمي ماند پس بي ايمان تر از اين قسم اشخاص كسي نخواهد بود .

اماوقتي ازفرامين واحكام رب العزت پيروي نمايم ، تمام موجودات به نفع ما درحركت خواهد بود زيرا همه موجودات وكائنات تحت فرمان الله عزوجل بوده وهست . چون باصفا وصميميت وصدق دل راهي راكه خداوند برايتان انتخاب نموده درحركت شديد تصور نكنيد كه تنها هستيد بلكه لشكر بي شمار خالق كائنات باشما درحركت خواهد بود وهمچنان وقتي به الله عزوجل ازدل وجان اعتماد نموديد فكر نشود كه به چيزي خورد وكوچك اعتماد كرده باشيد بلكه به ذات عظيم ، پاك وبزرگواري كهبرقدرتها مافوق همه قدرت هاي كائنات وجهان هست اعتماد نموده ودست مدد او درهرآن وهرلحه وهرلحظه شما را حمايت خواهد نمود وابداً به ناكامي ونامرادي مواجه نخواهيد شد برخلاف كسانيكه مطابق قوانين وضع شده، الهي عمل نكنند وراه كفر والحاد را اختيار نمايد حالات داخلي اين طائفه چه خواهد بود ملاحظه فرمايد:

ص ۳

دوه مخی سیاست

الله تعالی دسورهء النساء په (۷۵-۷٦) لیر ایتونو کښی فرمائی :

« څه دلیل دی چی تاسی دالله په لاره کښی دهغو بیوسو نارینه ؤ ، ښځو او ماشومانو په خاطر نه جنګیږئ چی کمزوری کړای شوی او ترفشار لاندی نیول شویدی او فریادونه کوی چی خدایه ! موږ له دی وطن څخه چی اوسیدونکی یی ظالمان دی وباسی او له خپل لوری نه زموږ له پاره کوم سرپرست او مرستندوی پیداکړی .

کومو خلکو چی دایمان لاره غوره کړیده هغوی دالله په لاره کښی جنګیږی او کومو کسانو چی دکفر لاره غوره کړیده هغوی دطاغوت په، لاره کښی جنګیږی نو دشیطان له ملګرو سره وجنګیږئ، اوباوروئ چی دشیطان دسیسی په حقیقت کښی ډیری کمزوری دی ».

دلته قرآن کریم په پوره صراحت سره فرمائی چی ای مؤمنانو ! ولی دالله په لاره کښی نه جنګیږئ ، دالله ددین دسرلوړی په لاره کښی ، دالله دنظام داقامی په لاره کښی ، دالله دقانون دنافذیدو په لاره کښی اود خپلو مستضعفینو ورونو ، خویندو او دترحم وړ بیوسیلی اطفالو دنجات په لاره کښی چی دکفر تر تسلط اوزیندی لاندی دمحکومیت شپی ورځی تیروی خوریږی ، کړیږی ، دوئلو چاره یی نشته ، غمځور او لاس نیونکی نلری ، یوازی دخدای دربار ته لاس په دعا دی وائی : زموږپروردګاره ! موږ ته له دغه وطن نه دوتلو لاره برابره کړه ، موږ ته ددغو ظالمانو څخه چی پر موږ باندی پخپل وطن کښی مسلط او حاکمان دی ، زموږ پرسرنوشت لوبی کوی نجات راکړه ، موږ خوغمخوراوسرپرست نلرو زموږ له پاره نه له خپل لوری نه یو مرستندوی او سرپرست اوډچارو واکمن وټاکه یعنی هغه خوک چی ستا له لوری ورته دواک اوحاکمیت دغه مقام وسپارل شی ستا په علم کښی دغسی کسان ښه معلوم دی اګرکه موږیی نه پیژنو اوله موږ څخه ورك شویدی .

بله څرګنده نکته داورځنه راوځی چی مؤمنان دقتال او جګړی میدان ته په همدی خاطر وړاندی کیږی چی دخدای دین غالب شی او دشیطانی نظام ټغر ټول شی ، پرمسلمانانو باندی داسی زعیم او قائد مسلط شی چی هغه دزعامت چوکی او مقام دځان له پاره نه غواړی ،دخپلو نفسی خواهشاتو داشباع له پاره یی نه غواړی ، دخپلو شومو او ناولیو اهدافو ترسره کولو له پاره یی نه غواړی ، ځان دخدای پرښدګانو باندی پورته او یادار نه ګڼی ، درعیت حقوق نه پاملوی ، دخدای بندګانو ته دخپلو غلامانو په سترګه نه ګوری ، دهغوی په مالونو او شتمنیو کښی ناروا تصرف نکوی ، بیت المال نه لوټوی، په چاباندی ظلم او تجاوز نکوی ، څوك بی موجبه نه توهینوی ، دچا ابرو او عزت نه توبوی بلکی دزعامت او قیادت مقام ورته ډیر دروند پیټی ښکاری ستر مسئولیت یی ګڼی ، دخدای لخوا نیابت او خلافت یی ګڼی ترڅو دخدای په ځمکه کښی دخدای پرښدګانو باندی دخدای نظام او شریعت نافذ کړی ، له هغه چا سره سخته مقابله وکړئ چی هغه دخدای دنظام پرځای دخدای په ځمکه کښی دخدای پر مخلوق باندی دشیطانی رژیمونو او کفری قوانینو حاکمول غواړی ، دخدای بندګان دځان بندګی ته ... او یا په بل عبارت دخدای دقانون پرځای خپل قوانین وریاندی جاری کوی ځان دفیصلو واکمن ګڼی او دقانون منبع .

لکه څنګه چی په قرآن کریم کښی له جنګ اوقتال څخه دمؤمنانو هدف او نصب العین معرفی شویدی همدارنګه دکافرانو هدف هم په واضح ډول سودل شویدی ، هغوی دطاغوت په لاره کښی جنګیږی یعنی ددی له پاره چی دخدای په ځمکه کښی دسرکشانو حکومت وی او دهغو ظالمانو حکومت چی هغوی دبیګناه انسانانو وینی توبوی ، دخدای نظام او قانون ترپښو لاندی کوی اوخلك دشیطان بندګی او اطاعت ته رابولی نویدی اساس ددغو دوو ډلو ترمینځ هیڅکله روغه جوړه نشی راتلای نه یو بل ته ددوستی لاس غځولی شی نه یو دبل ترځنګ دریږی او نه یو له بل نه دفاع کوی ، دهدف او نصب العین په بیلوالی سره یوله بله نه یوازی جداکیږی بلکی یو دبل دښمنان ګرځی ، پدی صورت کښی نه شیبی پیوندونه دوی سره یوځای کولای شی ، نه دژبی او قومیت پیوندونه اونه دخاوری او وطن .

لکه چی قرآن کریم دی حقیقت ته دسورهء المجادله په (۲۲) ایت کښی داسی ګوته نیولی ده :

« ته به هیڅکله داونه مومی کوم خلك چی پر الله او داخرت په ورځ باندی ایمان لرونکی دی چی هغوی له هغو خلکو سره دوستی کوونکی واوسی چی دالله اودهغه درسول دښمنان دی که څه هم دهغوی پلرونه وی یا دهغو زامن وی ، یا دهغو ورونه وی یا دهغو ټبر او کورنی وی ، مؤمنان هغه کسان دی چی الله ددوی په زړونو کښی ایمان ثبت کړیدی اوله خپل لوری دیو روح په ورکولو سره یی دوی تقویه کړیدی . داسی جنتونو ته به یی ننباسی چی ترهغو لاندی به ویالی بهیږی . په هغو کښی به دوی دتل له پاره اوسیږی . الله له دوی نه راضی شو او دوی له الله نه راضی شول ، دوی دالله دګوند خلك دی ، خبردار اوسی، همدا دالله دګوند خلك فلاح موندونکی دی ».

پدی ایت کښی دوه خبری ذکر شویدی یوه اساسی او اصولی خبره ده اوبله دواقعیت بیان . اصولی خبره دااوول شویده چی په حق دین باندی ایمان او ددین له دښمنانو سره مینه یو دبل پرضد شیان دی چی په یوه ځای کښی دواړه جمع کیدل په هیڅ ډول دتصور وړندی . داخبره ناممکنه ده چی په یوه زړه کښی هم ایمان او هم دخدای او رسول دښمنانو مینه جمع شی لکه چی دیو انسان په زړه کښی دخپل ځان اوخپل دښمن مینه نشی جمع کیدای ، له دی امله که تاسی داسی څوك ووینئ، چی دایمان دعوه هم کوی او ددی ترڅنګ یی له داسی کسانو سره دمینی او دوستی پیوند هم ښنلولی وی چی له اسلام سره دهغوی دښمنی څرګنده ده نو تاسی پدی وپوهیږئ، چی هغه دایمان په دعوه کښی بیخی دروغجن دی ، په همدی ډول کومو کسانو چی له اسلام او داسلام له دښمنانو سره په یو وخت کښی پیوند ښنلولی دی هغوی باید پخپله هم پخپل دریځ باندی ښه غور وکړی چی هغوی په واقع کښی څه دی ، مؤمنان دی که منافقان ؟ اوپه واقع کښی څه باید واوسی مؤمنان که منافقان ؟ که په دوي کښی ریښتینولی او دا احساس موجود وی چی دادمنافقت لاره ده اومنافقت ډیر ذلیل خوی دی نو په یووخت کښی باید په دووکشتیو کښی دسپریدو کوشش ونکړی چی هم داسلام دعوه وکړی اوهم داسلام له دښمنانو سره دوستی ولری . ایمان خوله مسلمان نه غوځه فیصله غواړی چی که مؤمن او سیدل غواړی نو ددوستی هغه پیوندونه دی غوځ کړی چی له اسلام سره ټکر کوی اوکه داسلام پرځای بل پیوند او دمسلمان پرځای دمسلمانانو ددښمنانو دوستی ورته ښه ښکاری نو ښیا دی داسلام دروغجنه دعوه نکوی . ځکه چی اسلام دوه مخی سیاست نه تائیدوی ،

داخو دموضوع اساسی اړخ دی مګر الله تعالی یوازی داصولو په بیانولو اکتفاء نده کړی بلکی دغه واقعیت یی هم دایمان دمدعیانو مخی ته دنمونی په توګه وړاندی کړیدی چی کوم کسان چی ریښتونی مؤمنان دی هغوی ټول هغه پیوندونه چی دالله له دین سره دپیوند په مخ کښی حائل وو غوځ کړل چی دبدر او احد واقعات ددی ژوندی دلیلونه او مثالونه دی . صحابه کرام رضی الله عنهم دخدای درضا او دخدای له دین سره دمحبت په خاطر له خپلو قبیلو او له خپلو ډیرو نږدی خپلوانو سره جنګیدلی وو . حضرت ابوعبیده (رض) خپل پلار عبدالله بن جراح ووژه . حضرت مصعب بن عمیر خپل وروړ عبیده بن عمیر ووژه ،

حضرت عمر فاروق (رض) خپل ماما عاص بن هشام بن مغیره ووژه . حضرت ابوبکر صدیق (رض) له خپل زوی عبدالرحمن سره جنګیدونه تیارشو - حضرت علی (رض) حضرت حمزه (رض)

ص ۳

اسلامي نړۍ او غربی ناسیونالیزم

دناسیونالیزم تاریخی پس منظر

د ژبې، قوم سیاست،خاوري او اقتصاد نا معقول توپیرونه چي د غربیانو لخوا په اسلامي خاوروکښي د « ناسیونالیزم » یا ملیت پالني ترعنوان لاندي خپریږي ، بوداسي استعماري هڅو ښکارندوي دي چي غواړي اسلامي ملتونه په خپل مینځ کښي لاس اوګریوان کړي اوکوم اسلامي تحریکونه چي د هغوي په مینځ کښي کارکوي دڅرګ پاکي مفکوري ته راواړوي څرد کمونیزم له سقوط سره په یووخت په اروپائي نړي او شوروي کښي هم (چي یووخت ددغي مفکوري خوروونکي ؤ) یوځل بیا دغي مفکوري وده موندلي اوکیداي شي دبرخطرناك عواقب مینځ ته راووړي .

ددي له پاره چي وکولاي شو موضوع ښه وڅیړو لومړي د ناسیونالیزم تاریخي پس منظر ، په اروپا کښي دهغه د ودي اوبیا اسلامي نړي کښي دهغه د خوریدو عوامل څیړو اوبیا به وګورو چي اسلام ددغي انساني او اسلامي ضد مفکوري په هکله څه وایي .

ناسیونالیزم له دوکلموتیش یا ناسیون (Nation) چي معنایي ده قوم ، قبیله او پرګنه او « ایزم » چي معنایي ده « په اصالت باندي اعتقاد » څخه جوړشوي دي . په دي اساس د ناسیونالیزم معنا شوه دقوم په اصالت باندي عقیده لرل . په ځینو دایرة المعارفونو اوهداراز د لغاتو په کتابونوکښي یې ناسیونالیزم د ملیت ګروهني ، د ملیت د مکتب ، په ملیت پوري ویښلتوب او... په معنا را اخیستي دي چي دغه معناګاني د ناسیونالیزم دقیق تعریف نه په ګوته کوي . په یوه هرارخیزه درجه بندي کښي « ملت » په لاندینیو معناګانو راغلي دي .

۱- ملت د ټولني د عمومي افکارو په معنا : په دي ځاي کښي په ټولنه کښي متشکلي پرګني اوقشرونه له اصالت نه برخمن نه وي اود ټولني عمومي افکار څیړي .

۲- ملت د اجتماعي طبقي په معنا : دغه تعریف نه د چپي آیډیالوژۍ پلویان استفاده کوي نوپه دي اساس هغه کسان د ملت جز دي چي د مارکسیزم په درجه بندي کښي ځاي ونیسي .

۳- ملت د ځنا ژي (د ژبې ، نژاد او ... له پلوه) پرګني په معنا : چي فاشیزم اونازیزم په هغه عقیده لري .

٤- ملت د ټولني د ټولو افرادو (له دوونیولي ترلویانو اوله ځوانانونیولي ترزړو پوري منتها د نظرونو په اختلاف) په معنا : دغه هراړخیز تعریف دي اوډیرلږورنه استفاده کیږي .

۵- ملت د یو واحد امت په معنا : چي یوه واحده دیني جهان بیني ولري .

٦- کله « ملت » په یوي داسي پرګني اطلاق کیږي چي د ګډو مصالحو له پاره د یوبل خواته راغونډ شوي دي .

۷- کله هم د « ملت » اصطلاح یوالحي په هغو کسانو اطلاق کیږي چي په ملي حاکمیت کښي درأیي ورکولو اوګډون حق ولري .

۸- د « ملت » اصطلاح کله ، کله د ټولني د افرادو په اکثریت باندي اطلاق کیږي اوطبیعتاً په دي ځاي کښي اقلیتونه د ملت جزنه شمیرل کیږي .

۹- ملت د یوه سیاسي واحد په توګه : په دغي نظریه کښي ملت د یوسیاسي واحد په توګه ګڼل شوي اوددغي نظریي پلویان لکه اوګاسټکي معتقددي : ملت لومړني اومقدم سیاسي واحد دي اوهغه عناصرلکه اقتصاد ، فرهنګ ، دین ، اوژبه نشي کولاي د سیاسي اصولو په څیر د ملتونو په پیدایښت کښي کوم ارزښت ولري داځکه چي ملتونه د ضرورت په توګه دحکومت دسیاسي اصولو تابع دي .

۱۰- ځیني ولي د ملتونو په پیدایښت کښي فرهنګي عوامل موثرګڼي اوملت د ټولني د فرهنګ اومعنویاتو نتیجه بولي اووایي چي نورعوامل د ملت په ایجادولو کښي اغیزمن ندي . یوله هغوکسانو څخه چي دیرزیات په دغي نظریي باندي ټینګارکوي پروفیسور « دوورژه » دي ، نوموړي وایي : هغه څه چي د ملت دپیداکیدو سبب ګرځي د ګډو عنعناتو اوفرهنګونو موجودیت اوشتون دي داځکه چي داسي ملتونه چي مختلفي ژبې ، نژادونه ، دینونه اودودونه یې درلودلي اویه یوخاصه سیمه کښي یې ژوند کړي څوبیاهم له دغو عواملونه هیڅ یولکه د هغوي ګډ فرهنګ ، په یوه سیمه کښي دهغوي د یوځاي اوسیدو دلیل ندي .

د ملت د اصطلاح د معنا پراخوالي اووسعت ته په توجه سره په یقیني ډول نشو کولاي ناسیونالیزم د ملیت ګروهني اویا ملي مکتب په نامه و پیژنو اویایي معنا کړو ځکه چي په دغو تعریفونو کښي له ملیت نه هدف مشخص ندي اوداهم معلومه نده چي په نوموړي ډیش اودرجه بندي کښي کوم یو تعریف د نظر ور ؤ . خود ملت د اصطلاح بالعکس ، دقوم لغت له زیات دقت او انسجام نه برخمن دي ، قوم له یوي خاصي پرګني نه عبارت دي چي ځانګړي روحیه اود قومي روحیي ځانګړي عناصرولري ، هرقوم د خپل جوړست او اجتماعي ،فرهنګي ،نژادي او اقتصادي اړیکو پرښتې په خپل ځان پوري د مربوطي انحصاراو د قومي روحیي د عناصرونه برخمن دي چي د بل قوم د قومي روحیي له عناصرو سره توپیرلري .

په دي اساس د قوم تعریف ته په پاملرني سره کولاي شو ناسیونالیزم د «قومي اصالت د مذهب » په عنوان تعریف کړو .

تاریخي پس منظر

په اروپا کښي د ناسیونالیزم فکر له منځنیو پیړیو نه وروسته هغه وخت چي مسیحیت کمزوري اود اروپائیانو دیني وحدت متزلزل شو ، مینځ ته راغلي اوپه دي اساس د اروپائیانو قومي یوالي دهغو د دیني یوالي ځاي ونیو .

